د افغان خبريال سلطان احمد منادي د وژنې په اړه
دافغانستان د بشري حقونو د څپلواك كمېسيون اعلاميه

دافغانستان د بشري حقونو څپلواك كمېسيون د افغان خبريال سلطان احمد منادي وژنه غندي او ددغې پېښې د څېړلو او د عاملانو د پيژندنې، نيولو او هغو ته د سزا وركولو غوښتنه كوي.
دې ته په كتو چې خبريالانو ته درناوی او د هغو ساتنه د ټولو ښكېلو خواوو دنده ده، خو له بده مرغه يوازي په روان كال كې پرته له دې چې عاملان يې څرگند اويا مجازات شي څو خبريالان وژل شوي دي.
په دې كې هيڅ شك نه شته چې د خبريالانو وژل د ژوندانه له حق، د بيان له آزادی او د بشري حقونو څخه ښكاره سرغړونه او گواښ گڼل كېږي.د ښاغلي سلطان احمد منادي د وژنې د څرنگوالي او څنگه والي په اړه گڼ شمېر ابهامات موجود دي چې لا هم نه دي روښانه شوي چې جدي پلټنو او څېړنو ته اړتيا لري.
د افغانستان دبشري حقونو څپلواك كمېسيون په دې اړه ځانگړې څېړنې پيل كړي دي چې د پايلو تر بشپړيدو وروسته به يې اړوندو ځانگو او د افغانستان خلكو ته اعلان كړي.
دافغانستان د بشري حقونو څپلواك كمېسيون د اروښاد له كورنی سره د خواخوږي له ښودلو سره –سره د ښاغلي منادي د وژنې په اړه دافغانستان له دولت ، د نړيوالو ځواكونو له قوماندانی او په افغانستان كې د ملگرو ملتونو له ځانگې غواړي چې په دې اړه دي جدي پلټنې تر سره كړي او ددغې پېښې عاملان دې له پيژندلواو نيولو وروسته په سزا ورسوي.

دافغانستان د بشري حقونو څپلواك كمېسيون
۱۳۸۸/٦/۲۱